
ليکوال: زلمي سالار بارکزي
افغانستان
کندهار
معروفي

#دافغانستان_خلص_معاصر_تاريخ.
د هرې ورځې مهمه سياسې پیښه.
دتاريخ لوستل زموږ سره زموږ پر
شخصي ، ملي ، او بين المللي
رفتار ،كردار او ګفتار باندي ښه اغيز
درلودلای.
نو همدي ګټو ته په كتنو د افغانستان د
معاصرتاريخ د هري ورځي مهمې پیښي د
هغي ورځي د تاريخ سره يوځای چې تر
اوسه پداسې خلص ډول تاريخ ندی ليكل
سوی زما (سالار ) په زيار راټول تاسو يې
ولولئ-
#ميرويس_خان_هوتكی:
نوموړي بادشاه د پښتنو د غلجيو د
قبيلي څخه وو چه د ګرجی الاصل
صفوی ګرګين ته يې چه پر كندهار يې په



کال ۱۷۰۹ کې تسلط درلودی ماته
ورکړه ،او تر هغه وروسته په هرات کي
هم په کال ۱۷۱۷ میلادی کي تر
1731پوري عبدالله خان ابدالی قبیلوي
تشکیل رامنځ ته کړی او د ابدالي ریاست
تر عنوان لاندی يي حکومت کاوه. د
میرویس خان هوتک ترمړګ وروسته
دهغه زوی شاه محمود هوتک چه په کال
۱۷۱۶ میلادی کی دده ځای ناستی وټاکل
سو دصفوی دولت پر پایتخت (اصفهان)
باندي يې حمله وکړه او په کال۱۷۲۲ کی
شاه سلطان حسین صفوی خپل شاهي
تاج پس له ۶ میاشتو محاصري دشاه
محمود پر سر کنبیښودی شاه محمود
دوه کاله بعد مړ سو او د کاکا زوی یې
شاه اشرف دسلطنت پرتخت ناسته وکړه.



اما دده سلطنت په اصفهان کی په کال۱۹۲۹، په هرات کی ابدالی حکومت په ۱۷۳۱ اوپه کندهارکی دغلجیانو حکومت په کال ۱۷۳۸ میلادی کی د نادرشاه افشار او دشاهزاده طهماسب د شاه سلطان حسین صفوی دزوی د لښکر د افسرانو په واسطه ورته دپای ټکی کښیښول سو، **#احمد_شاه_درانی** ۱۵/۷/۱۷۴۷تاریخ پر خرآسان دحکومت اعلان وکړی د اکتوبر په میاشت کی په کال ۱۷۴۷ کی پیر سید صابر شاه کابلی د کندهار د شیرسرخ په زیارت کی د احمد شاه درانی په لنګوټه کښي هغه مهال دپادشاه د ټاکلو په منظور وړی کښیښود چه دپښتنو بالخصوص ددرانیو ټولي قبیلي د یو پادشاه د ټاکلو پر سر نه سره جوړیدلي ،



دا مهال دقومونو د مشرانو له منځه لوی
مشران اوتوجه وړ کسان نورمحمدخان
علیزی اوجمال الدین خان بارکزی شمیرل
کیدل خو دوی ته بیا نورو اقوامو ځکه
زړه نه ښه کاوه چه نورمحمد خان
(میرافغان) دطبیعت لخوا خشک اوشوخ
سړی وو او دجمال الدین خان ښخه یې
داویره وه چه که یو وار قدرت
وروسپارل سي دلوی قوم درلودلو په
اساس به یې بیا هیڅکله ونه سپاري
ځکه نوموړی ملنګ دجرګې ترښه جاج
اخیستلو وروسته داحمدشاه بابا د
پادشاهۍ اعلان د یو دریمګړي په صفت
وکړی د احمدشاه بابا لخوا رسما
خراسان په افغانستان بدل سو.

په کال ۱۷۴۸ په جنوری کښي افغان
ځواکونه دلوی احمد شاه بابا (درانی) تر
مشری لاندي د لاهور پر ښار چه هغه
مهال د مغولو ترکنترول لاندی وو تصرف
پیدا کړی .
مارچ ۱۷۴۸ : احمد شاه درانی قوتونه
پنجاب دمانیپور په نیږدو کی لږخوږ
سول بیرته یوځل کندهار ته راوګرځیدل
او دې جنګ و ده ته یو درس ورکړ.
۲۱/۱۰/۱۷۵۱ : احمد شاه درانی پرهند
ددریمې حملي دپاره پیښور ته ورسیدی.
۶/۳/۱۷۵۲ : دافغاني قواوو او د میرمنو د
قواوو تر منځ دلاهور دښار په اطرافو
کښي سخته شخړه ونښته خو افغانې
قواوو بری ترلاسه کړی.

۱۰/۳/۱۷۵۲ : افغان لښکرو د لاهور ښار تر خپل تصرف لاندی راوستی.
۱۵/۱۲/۱۷۵۶ : احمد شاه درانی دڅلورم ځل دپاره دیوی لویی قوی په ملګرتیا د لاهور د ښار پر لوری حرکت وکړ.
۲۲/۱/۱۷۵۷ : د احمد شاه درانی قواوو د دهلی پر شاوخوا خپله موضع ونیوله.
۲۸/۱/۱۷۵۷ : احمد شاه درانی دخپلو لښکرو په ملتیا دهلی ته ننووت او عالمګیر پاچاد مغولو دوهم امپراتور داحمدشاه بابا ښخه استقبال وکړ.
۱/۲/۱۷۵۷ : احمد شاه درانی یو فرمان صادر کړی چه په هغه کی د دهلی د اوسیدونکو د مال اوځان دساتنی او د امنیت د تامین غوښتنه پکښي سوی وه.
۱/۲/۱۷۵۷ : داحمد شاه بابا ځواکونو د

مرهټه د خلکو مقاومت مات کړی
اوتردی جنګ یوه ورځ وروسته يي
دمرهټه دقواوو مرکز چه د فرید آباد ښار
وو په مکمله توګه وسوځاوه.
اکتوبر ۱۷۵۹ : احمد شاه درانی اولښکريی
دپنځم ځل دپاره پر هند د حملی قصد
وکړ.
۲۵/۱۰/۱۷۵۹ : احمد شاه درانی او لښکر
یی د سند پر  رود تیرسو او پنجاب ته ور
ننوتل.
۵/۳/۱۹۶۰ : دجټهانو نظامی کلا په
علیګره کی د احمد شاه درانی د لښکرو
په واسطه دسقوط سره مخ سوه.
۱۴/۱/۱۷۶۱ : د مرهټه قواوو په پانی پت
کی یو خورا سخته ماته  وخوړه د مرهټه
دفوځ ۳۰۰۰۰ کسان مړه او ټپیان سول او

دا مهال دده سره د کوه نورالماس هم وو.
اکتوبر ۱۷۶۴ : احمد شاه درانی داووم ځل دپاره پر هند او لاهور د حملی په موخه افغانستان پریښود.
۲۱/۱۲/۱۷۶۶ : افغان ځواکونو د فیصل آباد ښار تر تصرف لاندی راوست.
۲۶/۵/۱۷۶۷ : افغان ځواکونه د سردار جهان خان تر مشرتوب لاندی د سیکهانو او د هغوی د متحدینو مقاومت د پنجاب په مختلیفو برخوکی مات کړی او په هغه مناطقو کی حاکم سو،
۹/۶/۱۷۷۲ : احمد شاه بابا د ایران د مشهد ښار د دوهم ځل دپاره تر خپل تصرف لاندی راوستی او کندهار ته راستون سو.

د۱۷۷۳ څخه تر ۱۷۹۳ میلادی یا ۱۱۸۷ څخه تر ۱۲۰۸ هجری قمری پوری تیمورشاه .

په ۲۳/۱۰/۱۷۷۵ باندی احمد شاه بابا د کندهار په معروف ( اوسنی توپی ) په سیمه کی وفات سو او #**تیمورشاه** زوی یی سلطنت ته ورسید.
په ۱۷۷۵ کی د افغانستان پایتخت د کندهار ښار څخه و کابل ته انتقال سو.
۱۹/۵/۱۷۹۳: تیمورشاه درانی د افغانستان پادشاه چه په عیاشی او فاحشی اخته وو او دده په دوران کي کومه خاصه پيښه نده سوي خو فقط د خپل وزیر په حيث يې د سردار پاینده محمدخان بارکزي پر ځاي يې رحمت الله پوپلزی



اعلیحضرت تیمورشاه غازی شهنشاه افغان (۱۱۸۷ هـ ق)

*S. M. Timour Chah Empereur Afghan (1773)*

وټاکه چه سردار پاینده محمد خان دده د
پادشاهۍ پلان جوړ کړی تیمورشاه د هغه
په شمول ۱۲ تنه پلان جوړونکي اعدام
کړل چه وروسته دې کار قومې ستونځې
رامنځته کړې ده پایتخت د لومړۍ ځل
لپاره د کندهار څخه کابل ته رانقل کړ
وروسته دکابل په بالاحصار کښې وفات
سو تیمورشاه دخپل پلار امپراطوري ونه
سوه ساتلی.


د۱۷۹۳ څخه تر ۱۸۰۱ میلادی یا ۱۲۰۸ څخه
تر ۱۲۱۶ هجری قمری پوری **#زمان_شاه** :
۲۳/۵/۱۷۹۳: شاه زمان دافغانستان د
پادشاه په حیث انتخاب سو.

د۱۸۰۱ څخه تر ۱۸۰۳ میلادی یا ۱۲۱۶ څخه
تر ۱۲۱۸ هجری قمری پوری

د۱۷۹۳ څخه تر ۱۸۰۱ میلادی یا ۱۲۰۸ څخه تر ۱۲۱۶ هجری قمری پوری **#زمان_شاه** :
۲۳/۵/۱۷۹۳: شاه زمان دافغانستان د پادشاه په حیث انتخاب سو.

د۱۸۰۱ څخه تر ۱۸۰۳ میلادی یا ۱۲۱۶ څخه تر ۱۲۱۸ هجری قمری پوری
**#شاه_محمود** .

۲۵/۷/۱۸۰۱ : شاه محمود شاه زمان ونیوی او هم یی ړوند کړ او خپله یې ځان پادشاه کړ.
۴/۶/۱۸۰۳ : په کابل کی دسنی مذهبه او شیعه مذهبه ترمنځ سخته نښته وسوه.
د۱۸۰۳ څخه تر ۱۸۰۹ میلادی یا ۱۲۱۸ څخه تر ۱۲۲۴ هجری قمری پوری



HIS LATE MAJESTY SHAH SHUJAH UL MULK.

#شاه_شجاع :
۱۳/۷/۱۸۰۳ : شاه شجاع د انګریزانو په لمسون وکابل ته راورسید اوخپل ځان یې دافغانستان مشروع پادشاه اعلان کړی.
۱۷/۶/۱۸۰۹: دری فقریزه ددوستۍ معاهده دشاه شجاع او مونت استورات الفنستن د بریتانیا د وخت د نماینده ترمنځ په پیښور کی په امضاء ورسیده.
۳/۲/۱۸۱۰: شاه شجاع د افغانستان څخه وتښتیدی اورنجیت سنګ چه د پنجاب حکمران وو هغه ته تسلیم سو،

د۱۸۰۹ څخه تر ۱۸۱۸ میلادی یا۱۲۲۴ څخه تر ۱۲۳۳ هجری قمری پوری
#شاه_محمود .

۱۸۱۸ـ د وزیر فتح خان بارکزي وژنه او په قومي شخړو کی دسردارانو ښکیلتیا.

د۱۸۲۶ څخه تر ۱۸۳۹ میلادی یا ۱۲۴۲ څخه تر ۱۲۵۵ هجری قمری پوری #دوست_محمدخان.

۱۸۱۸-۱۸۳۵ : داخلي جنگونه او دهیواد ویش دبارکزیو او د پوپلزیو د سدوزیو د ښاخ د سردارانو په منځ کښي.

#دوست_محمدخان.
۱۸۱۸-۱۸۳۵ : داخلي جنگونه او دهیواد ویش دبارکزیو او د پوپلزیو د سدوزیو د ښاخ د سردارانو په منځ کښي.
اکتوبر ۱۸۲۶ امیر دوست محمدخان د کابل ښار پخپل تصرف کښی راوستی.
۴/۹/۱۸۲۸ : شاه محمود سدوزی د افغانستان پاچا وفات وکړ.
۱۸۳۵ : امیر دوست محمدخان دپادشاهۍ اعلان وکړاوځان ته یی امیرالمؤمنین وویل.
۲۰/۹/۱۸۳۷ : الکساندر برنس دبرطانیایی گورنر جنرال دنماینده په حیث چه په هندکی مستقر وو کابل ته راغلی،
۱۸۳۷: ویتکوویچ د روسیی استازی کابل ته راستون سو،

۲۶/۶/۱۸۳۸ : اولس ماده ای معاهده د بریتانیا دحکومت د نماینده ، شاه شجاع او رنجیت سنگ ترمنځ په لاهور کی امضا سوه.
۹/۹/۱۸۳۸: هرات کي د ایرانیانو محاصره ماته سوه.
۱/۱۰/۱۸۳۸ : برطانوی جنرال لارد آکلند په سمله کی دجنګ فرمان د افغانستان پر برابر صادر کړی.

۱۸۳۸ - ۱۸۴۲ دافغان او انگلیس لومړی جنګ.

جنوری ۱۸۳۹ : امیر دوست محمدخان د خپلو قواوو سره د بامیانو پر لور شاتګ وکړی،

د۱۸۳۹ څخه تر ۱۸۴۳ میلادی یا۱۲۵۵ څخه تر ۱۲۵۸ هجری قمری پوری

**#شاه_شجاع :**

۲۸/۴/۱۸۳۹ شاه شجاع ددوهم ځل دپاره پادشاهی اعلان کړه او په کندهار کی پر تخت کښېنستی.

۶/۸/۱۸۳۹: شاه شجاع د انګلیسی قواوو په په زور کابل ته ننوت.

۱۵/۱۰-۱۸۴۰:انګلیسی عساکرو د کابل شمالی قریجاتو ته اور ورکړ.

۵/۱۱/۱۸۴۰: امیر دوست محمدخان انګلیسانو ته تسلیم سو کیدای داپی یو تکتیک وو.

۲/۱۱/۱۸۴۱: افغان مجاهدینو د شپی لخوا یوه غافلګیرانه حمله پر انګلیسی قواوو دکابل په بالاحصار وکړه.

۲۳/۱۲/۱۸۴۱: د افغان او انگلیس د رهبرانو په ترمنځ په کابل یی یوه جلسه دایره سوه چه د هغې ناستی په ترڅ کښي ویلیام مکناتن دبرطانیا دوخت سفیر په کابل کی د وزیر اکبرخان په واسطه مخامخ ووژل سو.
۱/۱/۱۸۴۲ اتلس مادیزه معاهده د افغان او انگلیس رهبرانو په منځ کښي په امضا ورسیده.
۶/۱/۱۸۴۲ : دانګلیس یرغلګره قوه دکابل پریښوولو ته آماده سوه.
۱۴/۱/۱۸۴۲ : انگلیس قواوی دکابل څخه د خروج پروخت دافغان مجاهدینو ترحملو لاندی راغلی دیوه کس پرته چه داکتر برایډن نومیدی نور یې ټول فوځیان ووژل سول.

۵/۴/۱۸۴۲ : شاه شجاع د یو افغان جهادی رهبرپه لاس دکابل په سیاه سنګ کې په قتل ورسیدی.
د۱۸۴۳ څخه تر ۱۸۶۳ میلادی یا۱۲۵۸ تا ۱۲۷۹ هجری قمری پوری
**#دوست_محمدخان** .

جنوری ۱۸۴۳ : افغانستان ته دامیر دوست محمد خان راګرځیدل.
۱۸۴۸ : دسکهانو او پنجاب په کمک سره دامیر دوست محمد خان لښکر کښي
۳۰/۳/۱۸۵۵ : دافغانستان او انګلیس ترمنځ ددوستۍ تړون په دری مادوکی د پیښور په ښارکښي په امضا ورسیدی.
۱۸۵۶ : پر هرات باندی د ایرانیانولښکرکښي او د هغوی سره

دانگلستان دجنګ اعلان،
۱۸۵۶ : دامیر دوست محمد خان
دمتصرفاتو سره د کندهار یو ځای کیدنه
۲۶/۱/۱۸۵۷ : د امیر او انګلستان ترمنځ
دمعاهدی لاسلیک،
۲۷/۵/۱۸۶۳: دهرات ښار د څو میاشتو تر
محاصری وروسته د دوست محمدخان
دقواوو په لاس سقوط وکړ او د هری
مقبره دامیر د قواوو په توسط ویجاړه
سوه.
۹/۶/۱۸۶۳ : امیر دوست محمدخان په
هرات کښې وفات سو.

د۱۸۶۳ څخه تر ۱۸۶۷ میلادی یا ۱۲۷۹
څخه تر ۱۲۸۴ هجری قمری پوری د

**#امیرشیرعلی_خان** پادشاهي .
۱۲/۶/۱۸۶۳ : امیر شیرعلی خان دقدرت زمامداری  په لاس کښي ونیوله.

۱۸۶۷: دامیر شیرعلی خان ماته او دخپلو ورونو سره جنګ او په عینې حال کی دامیر محمد افضل خان دپادشاهی اعلان.

۷/۱۰/۱۸۶۷ : امیر محمد افضل خان په کابل کښي وفات سو.
د۱۸۶۷ څخه تر ۱۸۶۸ میلادی یاد۱۲۸۴ څخه تر ۱۲۸۵ هجری قمری پوری
**#محمداعظم_خان** .
۱۸۶۷ : محمد اعظم خان پادشاهی ته ورسید.
۱۸۶۸ : سید جمال الدین افغان په کابل

#محمداعظم_خان .
۱۸۶۷ : محمد اعظم خان پادشاهی ته ورسید.
۱۸۶۸ : دسید جمال الدین افغانی وکابل ته راتګ،
د۱۸۶۸ څخه تر ۱۸۷۹ میلادی یاد۱۲۸۵ څخه تر ۱۲۹۶ هجری قمری پوری
#شیرعلی_خان:
۷/۹/۱۸۶۸: دامیرشیر علی خان قواء دکابل دشش ګاوپه نواحیوکی دمحمد اعظم خان پر لښکرو بری ترلاسه کړی او شیر علی خان د دوم ځل دپاره د افغانستان پادشاه سو .
سپتمبر ۱۸۷۳ : دسمله کنفرانس د سید نور محمد شاه اودهندوایسرای په منځ کی،

۱۸۷۳: شمس النهاردجریدی د نشر شروع،
۱۸۷۴ : دشهزاده محمد یعقوب خان بندی
کیدل،
۱۸۷۶ : پرکویټه باندی دانګلستان تصرف،
۱۸۷۷ : په پیښورکی د سید نور محمد
شاه او د هند وایسرای د نمایندګانو تر
منځ کنفرانس،
جنوری ۱۸۷۸: کابل ته دجنرال ستولیتوف
ترریاست لاندی دروسی هیئت راستنیدل،
۱۳/۶/۱۸۷۸ : دبرلین دمعاهدی لاسلیک
دروسی اوانګلیسي شرکت سره،
سپتمبر ۱۸۷۸ : دخیبر د سرحد څخه د
انګلیس د هییت بیرته راستنیدل

د۱۸۷۸ - ۱۸۸۰ د **#افغان_او_انګلیس**
دوهم جنګ ،
۲۱/۱۱/۱۸۷۸ : بریتانیایی عسکرو له دریو
استقامتونو څخه پر افغانستان حمله
وکړه او د افغان او انګلیس دوهم جنګ
شروع سو،
۱۳/۱۲/۱۸۷۸ : دامیر شیر علی خان
حرکت دمزار شریف پر لور.
۸/۱/۱۸۷۹ : انګلیسی قواوو د قوماندان
جنرال استورات په مشری کندهار پخپل
تصرف کښې راوستی.
۲۱/۲/۱۸۷۹ : امیر شیرعلی خان په مزار
شریف کښې وفات وکړ.
د۱۸۷۹ څخه تر ۱۸۸۰ میلادی یا ۱۲۹۶ څخه
تر۱۲۹۷ هجری قمری پوری
**#امیرمحمد_یعقوب_خان** :

#امیرمحمد_یعقوب_خان :
مارچ ۱۸۷۹: محمد یعغوب خان د محبس خخه خلاص سو او په کابل کی پادشاهی ته ورسید.
۲۸/۵/۱۸۷۹ : دګندمک ننګینه اوشرموونکی معاهده دامیرمحمدیعقوب خان او لوئیس کیوناری ترمنځ په امضا ورسیده ددوو ورځو وروسته د وایسرای لخوا تصدیق سوه.
۲۴/۷/۱۸۷۹: د انګلیس سفیر رسیدل وکابل ته.
۳/۹/۱۸۷۹ : دکابل اوسیدونکو د انګلیسانو پر ضد قیام وکړی او کیوناری دانګلیس دوخت سفیرپی په قتل ورساوه.
۱۴/۹/۱۸۷۸: د کرم خخه دانګلیسي

قواوو تعرض دکابل پرلور.
۲۱/۹/۱۸۷۹ : د جنرال رابرتس د قواوو رسیدل و لوگر ته .
۶/۱۰/۱۸۷۹ : د چهار آسیاب جنګ،
۷/۱۰/۱۸۷۹: د رابرتس دقواوو رسیدل وکابل ته .
۱۲/۱۰/۱۸۷۹: امیر محمد یعقوب خان خپله استعفاء دانگلیس نماینده ته پیشنهاد کړه.
۱۷/۱۰/۱۸۷۹ : دکابل د بالاحصار په داخل کی دیو لویی چاودنې رامنځته کیدل اود زیاتو بریتانوی عسکرو وژل کیدل.
۱/۱۲/۱۸۷۹ : امیر یعقوب خان د سلطنت ځخه خلع سو او د انگلیسانوپه واسطه هندته ولیږل سو،
۲/۱۲/۱۸۷۹ : دچهاردهی جنګ او د

رابرتس ماته .
۲۳/۱۲/۱۸۷۹ : پر شیر پور دمجاهدینو
ناکامه برید .
فبروری ۱۸۸۰ : د سردار عبدالرحمن خان
داخلیدل د افغانستان وخاوره ته وسو.

۱۸۸۰ څخه داکتوبر ۱۹۰۱ میلادی یا۱۲۵۹
څخه تر ۹ دمیزان ۱۲۸۰ هجری شمسی /
۱۲۹۷ څخه تر ۱۳۱۹ هجری قمری

#عبدالرحمن خان .
۲۲/۷/۱۸۸۰ : عبد الرحمن خان د چاریکار په ښارکښي د پادشاهۍ اعلان وکړ.
۲۲/۷/۱۸۸۰ : د عبدالرحمن خان دپادشاهۍ مراسم ته کابل کی دایر سو.
۲۷/۷/۱۸۸۰ : په میوند کښي د محمد ایوب خان په رهبری د انګلیسانو د فوځ سره چه رهبری یی جنرال باروز کوله شروع سو او په دی جنګ کی دافغانستان د خلګو لخوا د انګلیسانو ځواکونو ته خورا شرموونکی او سخته ماته ورکړه چه زرګونه انګریزان ووژل سول او پدي جګړه یې د افغانستان څخه زړه ور تور کړ او د ملالۍ داستانونه تر اوسه ژوندي دي .
آپریل ۱۸۸۱ : دکندهارڅخه د انګلیسانو د

وروستی دلي وتل،

۲۲/۹/۱۸۸۱ : د امیر عبدالرحمن  خان او سردار محمد ایوب خان د کندهار په چهل زینو کی جنګ .

۱۸۸۲-۱۸۹۲ : د شنوارو ښوربش پیل سو

۱۸۸۵-۱۸۸۷: د افغانستان دشمالی سرحداتو تعین له آمو سیند تر هریرود پوري .

۳۰/۳/۱۸۸۵ : د افغان عسکرو او روسی قواو ترمنځ د پنجده دسرحد پر سر جنګ اور واخیست او هغه  ناحیه د افغانانو د لاسه ووته.

مارچ-آوریل ۱۸۸۵ : د امیر مسافرت و هندته او دوایسرای سره ملاقات یی وسو

۱۸۸۶-۱۸۸۸ : د غلجیانو ښوربش پیل سو

۱۸۹۱-۱۸۹۴: دهزاره جات ښوربش پیل سو

۱۲/۱۱/۱۸۹۳: [illegible]

۱۸۹۱-۱۸۹۴: دهزاره جات بنوربښ پیل سو
۱۲/۱۱/۱۸۹۳: د ډیورند شرمووونکي تړون د امیر عبدالحمن خان او جنرال ډیورند تر منځ په کابل کښي د یو سیاسي فشار په نتیجه کي په مشروط ډول امضاء سو.
۱۸۹۵: د سردار نصرالله خان سفر تر لندنه،
جون ۱۸۹۵: د امیر عبدالرحمن خان قواوی د سپه سالار غلام حیدرخان ترقیادت لاندی د کافرستان پر مناطقو حمله وکړه.
۱۶/۱/۱۸۹۶ : امیر عبدالرحمن خان د کافرستان دفتحی په خاطر (اوسنی نورستان) دخوشحالۍ دوروځې جشن جوړکړ .
۱۸۹۶: د واخان د سرحد معلومول،



۱/۱۰/۱۹۰۱ : امیر عبدالرحمن خان  د کابل په باغ بالاکی وفات سو.
داکتوبر د اولې ۱۹۰۱ څخه بیاتر۲۰ فبروری ۱۹۱۹ میلادی یا۹ میزان ۱۲۸۰ څخه تر ۳۰ دلو ۱۲۹۷ هجری شمسی پوري د **#حبیب_الله** پادشاهي.

۳/۱۰/۱۹۰۱ : حبیب الله خان دامیر عبدالرحمن خان زوی د افغانستان پادشاه سو.

۱۹۰۳ کي دحبیبیه ښوونځی تاسیس سوه

۱۹۰۴ دشهزاده عنایت الله خان تګ و هندته،

۲۱/۳/۱۹۰۵ :  دافغانستان او د برطانیا د دولت تر منځ قرارداد چه د دخال د معاهدی په نوم  یی شهرت پیداکړی په کابل کی امضا سوه.

۱۱/۱/۱۹ کي د سراج الاخبار لومړنی پاڼه منتشره سوه.

۱۹۰۷: امیر حبیب الله خان هند ته سفر وکړ،

۳۱/۸/۱۹۰۷ : دروس اوانګلیس ترمنځ یوه وعده نامه امضاء سوه د منځنۍ آسیا د هغو منطقو پر سر کوم چه د دوی تر نفوذ لاندی وي،

۱۹۰۹: د مشروطه غوښتونکو نیول او ورپسې دهغوی څخه دځینو اعدامول،

۱۹۱۰ : د کابل او جلال آباد تر منځ دتلیفونې خط غځیدل

۱۹۱۱ : دسراج الاخبار ددوهمی جریدی تاسیس دمحمود طرزی لخوا وسو

۱۹۱۲: د منګلو د قبیلی ښورښ پیل سو

۲۴/۸/۱۹۱۴ : په لومړی نړیوال جنګ کی

دافغانستان بی طرفي.
۲۱/۱۰/۱۹۱۴ په لومړی نړیوال جنګ کی افغانستان دبی طرفۍ اعلامیه صادره کړه.
۲۲/۸/۱۹۱۵: یوآلمانی-ترکی هیت دافغانستان هرات ته ددی دپاره راغلی چه افغانستان نړیوال جنگ ته راوکاږي.
۲۶/۹/۱۹۱۵ د آلمانی-ترکی هییت وکابل ته رارسیدل،
۲۴/۱/۱۹۱۶ : امیر حبیب الله خان دافغانستان پادشاه په لومړۍ نړیواله جګړه کښي د هیواد د بیطرفی دوهم تړون امضا کړ.
۸/۷/۱۹۱۸ : د بریتانیه حکومت دمبلغ لسو میلیون کالدارو و امیرحبیب الله خان ته دورکولو اطلاع ورکړه چه دا ستا

يو رسمي عوض دی ددې دپاره چه تا په نړيوالوجګړو کی بيطرفی اعلان کړه.
۱۹۱۹/۲/۲ : دسولی په کنفرانس کی دافغانستان شرکت،
۱۹۱۹/۲/۲۰ : امير حبيب الله خان د کله ګوش منطقی چه لغمان ولايت مربوط ده د يو ناپيژندل سوې شخص لخوا په قتل ورسيد.
۱۹۱۹/۲/۲۱: سردار نصرالله خان د امير حبيب الله خان وروره په جلال آبادکی خپل ځان د افغانستان پادشاه اعلان کړی.

د۲۱ فبروری ۱۹۱۹ څخه تر ۱۴ جنوری د ۱۹۲۹ میلادی کال یا دحوت داد ۱۲۹۷کال څخه بیاتر۲۴ دجدی د ۱۳۰۷ هجری شمسی کال پوری د **#امان_الله** خان واکمني .

۲۱/۲/۱۹۱۹ امان الله خان دامیر حبیب الله خان زوی په کابل کښي دپادشاهۍاعلان وکړ.
۲۴/۲/۱۹۱۹ : امیر امان الله خان د کابل ښار دځینو اوسیدونکو په منځ کښې راښکاره سو او د افغانستان استقلال یې اعلان کړ.
۲۸/۲/۱۹۱۹ نصرالله خان په یوه لیک کی دپادشاهۍ ادعا صرف نظر وګرځوله او د امان الله خان سره یې بیعت وکړ،



۳/۳/۱۹۱۹ : امان الله شاه دهند وایسرای ته یولیک د افغانستان دپوره استقلال په اړه واستوی،

دمارچ ۱۹۱۹ دکابینې تشکیل ،

۷/۴/۱۹۱۹: دامان الله شاه لخوا یو پیغام په عنوان د شوروی، جاپان، آمریکا، فرانسه، ایران او ترکیی هیوادونوته ولیږدول سو

۴/۱۹۱۹ -۱۳: داستقلال رسمی اعلان او د اصلاحاتو وعده،

۴/۵/۱۹۱۹: دافغان او انگلیس دریمه جگړه چه داستقلال په جنگ مشهور دی شروع سو.

۲۶/۵/۱۹۱۹: دانگلیسی الوتکو په ذریعه کابل بمبارد سو.

۲۸/۵/۱۹۱۹ :دټل جگړه پیبنه سوه

۲۸/۵/۱۹۱۹ : دانګلیس او افغانې قواو تر منځ په اوربند توافق وسو.
۲۹/۵/۱۹۱۹ :دسپین بولدک نوی کلا د انګلیسانو لاس ته ولویده،
۳/۷/۱۹۱۹ د افغان او انګلیس ترمنځ متارکه اعلام سوه.
۸/۸/۱۹۱۹ : د افغانستان او برطانیی دحکومت ترمنځ دسولی تړن په راولپنډۍ کی لاسلیک سو.
اکتوبر ۱۹۱۹: د افغانستان دپیژندنې په خاطر دمحمد ولی خان په مشری مسکوته یوهییت ولاړی
داپریل د۱۷ څخه دجنوری تر۲۴ پوری په کال ۱۹۲۰کی دافغان اوبرطانوی هییت تر منځ کنفرانس په میسوری کښي شروع اوپای ته ورسید.

۱۹۲۰ : وافغانستان ته د هندې مهاجرینو راتګ .
۱۸/۹/۱۹۲۰: امان الله خان خپل لومړنی تلګرامی پیغام دهغه ماشین په ذریعه چه دشوروی لخواده ته په هدیه کی ورکول سوی وو لنین ته ولیږی.
۱۹۲۰ : بخارا ته افغانستان کومکی ځواکونه ولیږل .
۱۹۲۱: د بخارا پادشاه په افغانستان کی پناه وغوښته .
۲۸/۲/۱۹۲۱ :د افغانستان او شوروی ترمنځ په مسکوکی ددوستۍ تړون لاسلیک سو .
۱۰/۴/۱۹۲۳ : دافغانستان لومړنی اساسی قانون چه دافغانستان دولت داساسې نظامنامی په نوم یادیدله په جلال

ابادکی دلویی جرگه دلوری په تصویب ورسیدی.
۱۰/۴/۱۹۲۳ : په کابل کی دفرانسې د مختار وزارت تاسیس،
دسامبر ۱۹۲۳ : په کابل کی دالمان دمختاری وزارت تاسیس،
۱۹۲۴ : امانی لیسه تأسیس سوه
می۱۹۲۴ : دخوست په ښارکی دملا عبدالله مشهور په ملاګوډ د هغه په مشري د امان الله خان دحکومت پرضدقیام شروع سو.
۳۰/۱/۱۹۲۵ دخوست دقیام مشران په شمول د ګوډ ملا دامان الله خان د وفادارانو لخوا ونیول سو.
۷/۶/۱۹۲۶ :دامان الله خان لخوا د شاه دلقب اختیار سو،

۱۵/۸/۱۹۲۶ د شوروی سره د سرحد تصفیه،
۱۹۲۶: د افغانی پیسو او د متری سیستم رواجول
۵/۵/۱۹۲۷ : دانیس جریدی لومړنی شماره په کابل کښي نشر سوه .
۱۰/۱۲/۱۹۲۷: د امان الله شاه لخوا خارج ته سفرونه شروع سول،
۲۰/۶/۱۹۲۸: دبهرخخه د امان الله شاه بیرته راګرځیدنه ،
جنوری ۱۹۲۸ د شاه لخوا د تازه اصلاحاتو اعلان وسو.
۲۹/۸/۱۹۲۸ : لویه جرګه د امان الله خان لخواپه پغمان کی افتتاح سوه.
۲/۹/۱۹۲۸ :دنوی اساسي قانون تصویب او دری رنګه بیرغ دجرګی په اخره جلسه

کی انتخاب سو،
سپتمبر-اکتوبر ۱۹۲۸ دشاه امان اللّٰه بیانیه د دستور په باغ کی،
۱۴/۱۱/۱۹۲۸: دشینوارودقبیلی شوربښ،
۱۴/۱۲/۱۹۲۸: د حبیب اللّٰه کلکانی (بچه سقا) نفرو پر کابل حمله وکړه.
۵/۱/۱۹۲۹ : داصلاحاتو د الغاءاعلان،
۱۴/۱/۱۹۲۹: امان اللّٰه خان دسلطنت دمقام څخه استعفا وکړه او دده پرځای دده معین السلطنه عنایت اللّٰه خان ددولت چاري پخپل لاس کښې ونیولي.
۱۷/۱/۱۹۲۹ عنایت اللّٰه خان ددری ورځو وروسته دخپلې پادشاهۍ څخه استفعا ورکړه.

دجنوری پر۱۸ کال۱۹۲۹ څخه بیا د تر ۱۵ د اکتوبر کال ۱۹۲۹ یا ۲۸ د جدی ۱۳۰۷ څخه تر ۲۳ میزان ۱۳۰۸ هجری شمسی پوری #حبیب_الله_کلکانی .

۱۸/۱/۱۹۲۹ : شاهی ارګ د حبیب الله کلکانی دنفرو تر تصرف لاندی راغلی.
۱۸/۱/۱۹۲۹ : حبیب الله کلکانی (بچه سقا) دافغانستان د پادشاه په حیث د سلطنت پر تخت کښېنستی.
۲۰/۱/۱۹۲۹: علی احمد خان په جلال آباد کی دپادشاهۍ اعلان وکړ.
۲۸/۲/۱۹۲۹ : علی احمد خان پیښور ته ورسیدی.
۸/۳/۱۹۲۹ جنرال محمد نادرشاه بریتانوی هند افغانستان ته د ننوتلو په

قصد پریښودی اوپکتیاته داخل سو.

۲۶/۳/۱۹۲۹ امان الله خان د ۱۵۰۰۰ نفریزه قواسره یوځای دکندهار څخه دکابل پرلورحرکت وکړ،

۱۵/۴/۱۹۲۹ :امان الله خان اود حبیب الله کلکانی دنفروترمنځ په غزنی کی سخته نښته رامنځ ته سوه

۲۳/۵/۱۹۲۹ :امان الله خان دیو مخلوع پادشاه په حیث دافغانستان څخه دچمن پر لار اروپا ته ولاړی.

۲۳/۵/۱۹۲۹ علی احمد خان په کندهار کی دپادشاهۍ اعلان وکړ دامان الله لښکرو چه ماته وخوړه او مشهور سرلښکر یې والي علي احمدخان بارګزی د بچه سقاو د لوري تر نیولو وروسته په توپ والوځول سو.

۳/۶/۱۹۲۹ : د حبیب الله کلکانې قواو پر کندهارتصرف حاصل کړ،

۷/۸/۱۹۲۹ :داصلاح لومړنی جریده منتشره شوه.

۱۱/۱۰/۱۹۲۹: د مارشال شاه ولی خان قوتونه وکابل ته ورسیدل،

۱۳/۱۰/۱۹۲۹ : د محمد نادرخان قواوی د کابل اطرافې غرونه سنگرونه وګرځول اوپرارگ باندی یی دګولیو باران شروع کړ.

۱۴/۱۰/۱۹۲۹:شاهی ارگ دنادر خان دنفرو لخوا محاصره سو.

۱۵/۱۰/۱۹۲۹ امیر حبیب الله کلکانی د کابل څخه شمال ته وتښتیدی.

د۱۵ داکتوبرکال ۱۹۲۹ څخه تر۸

د۱۵ داکتوبرکال ۱۹۲۹ څخه تر۸ دنومبرکال ۱۹۳۳ میلادی یا ۲۳ دمیزان کال۱۳۰۸ څخه تر۱۷ دعقرب کال۱۳۱۲ هجری شمسی پوری #محمد_نادرشاه .

۱۵/۱۰/۱۹۲۹ محمد نادرخان درسمی مراسموپه ترڅ کی د افغانستان پادشاه تعین سو.
۱۷/۱۰/۱۹۲۹ محمد نادرشاه پر شمال دحملی امر صادر کړ.
اکتوبر ۱۹۲۹د محمد نادرشاه لخوا حبیب الله کلکانی ته د تسلیمی درخواست ولیږل سوچه بخښنه به ورته کیږی خو هغه یي دملګرو سره یوځای په شاهی ارګ کی اعدام کړی.
۱۴/۱۱/۱۹۲۹دهیواد نوی کابینه دسردار

محمد هاشم خان ترصدارت لاندی
تشکیل سوه.
آپریل ۱۹۳۰: وکیل محمد ولی خان
محاکمه سو،
۲۴/۶/۱۹۳۱ : دبی طرفی او د متقابله
عدم تجاوزپه نامه د افغانستان او
شوروی ترمنځ د نهو مادو په درلودلو
سره یوه معاهده په کابل کی په امضا
ورسیده.
جنوری۱۹۳۱ :د ادبی انجمن تأسیس وسو،
۳۱/۱۰/۱۹۳۱:دافغانستان اساسی قانون
چه د افغانستان ددولت داساسی
اصولوپه نوم وجود درلودی په یو سل
اولسو مادوکی په تصویب ورسیدی.
۱۹۳۱: د ابراهیم بیگ لقی بنوربش او د
افغانستان څخه دهغه وتل .

۱۶/۷/۱۹۳۲:د ملی شورا پرانیستل،
۲۴/۸/۱۹۳۲:د افغانستان نوی اداری ویشونه اعلان سو او هیواد په ۵ لوی واحدونو او ۴ کوچنیو واحدونو وویشل سو.
۸/۱۱/۱۹۳۲ :غلام نبی خان اعدام سو،
۱۹۳۲ :دطب فاکولته تاسیس سوه،
۱۹۳۳:د شکاری دری د سړک تکمیل
۶/۶/۱۹۳۳ سردار محمد عزیز خان په برلین کښي ووژل سو،
۸/۱۱/۱۹۳۳ محمد نادرشاه د افغانستان پادشاه دیو متعلم لخواچه دعبدالخالق په نوم وو په شهادت ورسیدی.

۸ د نومبر کال ۱۹۳۳خخه تر ۲۴د اگست کال۱۹۷۳ میلادی پوری یاد ۱۷ دعقرب

۸ د نومبر کال ۱۹۳۳خخه تر ۲۴د اگست کال۱۹۷۳ میلادی پوری یاد ۱۷ دعقرب کال۱۳۱۲ خخه تر ۲ دسنبلی کال ۱۳۵۲ هجری شمسی پوری **#محمدظاهرشاه** .

۸/۱۱/۱۹۳۳: محمد ظاهرشاه دافغانستان دپادشاه په حیث تعین سو.
۲۸/۹/۱۹۳۴ : افغانستان دملتونو تولنی د سازمان غړیتوب تر لاسه کړ.
۳/۳/۱۹۳۷ : د پښتو ژبی د تعمیم په اړه د شاهی فرمان نشر سو
۷/۷/۱۹۳۷ : د ۴ هیوادونو دنمایندگانو افغانستان، ایران، ترکیه او عراق ترمنځ د صلح او امنیت داستقرار اوپه نږدی شرق کی د عدم تعرض ، د روابطو د تشدید او د متقابلو همکاریو په منظوریو لس ماده

یېزه تړون د سعدآباد په ماڼۍ کښې په امضا ورسیدی.
۱۶/۶/۱۹۴۶ سرحدی معاهدۀ دتالویگ دخط پرمبنا دافغانستان او شوروی په منځ کي وسوه،
1945 : افغانستان دملګرو ملتونو دسازمان غړیتوب ترلاسه کړ.
۲۶/۴/۱۹۶۰ دامان الله شاه وفات
۱۵/۱۰/۱۹۶۷: دستری محکمی افتتاح
۱۷/۷/۱۹۷۳ : د سردار محمد داودخان کودتا،

دجنوری۱۷ کال ۱۹۷۳ څخه تر۲۷د آپریل کال۱۹۷۸دسرطان د۲۶ کال ۱۳۵۲ څخه تر۷ دثورکال ۱۳۵۷ هجری شمسی پوری د



#محمدداودخان دجمهوریت ریاست.

۱۸/۷/۱۹۷۳: محمد داود خان ددولت دریس او صدراعظم په حیث وټاکل سو
۲۲/۸/۱۹۷۳: محمد داود خان دافغانستان لومړنې جمهوررییس دخپلی بیانیی په ترڅ کی نظام دجمهوری نظام تګلاره بیان کړه.
۲۱/۹/۱۹۷۳ : محمد هاشم میوندوال دافغانستان پخوانی صدراعظم پر نظام دکودتا په تور ونیول سو.
۱/۱۰/۱۹۷۳ : دکابل رادیو اعلان وکړ چه محمد هاشم میوندوال په زندان کښې ځان وژنه کړیده.
۲۱/۲/۱۹۷۴ په لاهور کی داسلامی هیوادونو ترمنځ د ګډ کنفرانس جوړیدل،

هیوادونو ترمنځ د ګډ کنفرانس جوړیدل،
۴/۵/۱۹۷۴ استاد غلام محمد نیازی د
نهضت اسلامی ګوندرهبراودده دډلې
ځینی کسان د پولیسواو امنیتی
قواوولخوا دستگیر سو.
جون ۱۹۷۴: ددولت دریس سفرو مسکوته.
نومبر ۱۹۷۴:دامریکا د باندنیو چارو د
وزیر کیسینجر سفر وکابل ته وسو
آپریل ۱۹۷۵درئیس دولت سفرو تهران ته،
۲۱/۵/۱۹۷۵ : دافغانستان داسلامی نهضت
لخواد ننگرهارپر سرخرودولسوالی حمله
وسوه دولتی دوایرېې اشغال کړل ترلږ
زد و خورد وروسته وتښتیدل.
۲۲/۷/۱۹۷۵ په پنجشیر کی لږښوربښ،
۲۷/۹/۱۹۷۵ : دکابینی ترمیم اوورځخه د
بعضی پرچمیانو اخراج،

۹/۱۲/۱۹۷۵ : دروس دجمهورریس پودگورنی سفر و کابل ته،

۱۲/۳/۱۹۷۶د پنجاب هند سند پوهنتون افتخاری دکتورا دافغانستان جمهوریس محمد داود خان ته اهدا کړه.

۲۱/۳/۱۹۷۶ : داووه کلن پلان شروع،

۷/۶/۱۹۷۶: دپاکستان دصدراعظم ذوالفقار علی بوتو سفر وکابل ته ترسره سو

۲۹/۶/۱۹۷۶ : د جمهور ریس دنماینده محمد نعیم سفر و آمریکا ته

۳/۷/۱۹۷۶ : دهند دصدراعظم ایندیرا گاندی سفرو کابل ته،

۲۰/۸/۱۹۷۶ : د رئیس دولت سفر و پاکستان ته،

۲۸/۱۲/۱۹۷۶ :دافغانستان جمهورریس

۲۸/۱۲/۱۹۷۶ :دافغانستان جمهورریس
محمد داود خان په یوه فرمان کی
دخلکوځخه وغوښتل چه خپل نمایندگان
د لویی جرگی دپاره انتخاب کړی.
۳۰/۱/۱۹۷۷ تاریخ لویه جرگه ددولت
دریس لخواشروع سوه،
۱۵/۲/۱۹۷۷ : دافغانستان دجمهوری
دولت اساسی قانون په ۱۳ فصله او ۱۳۶
مادوکی دلویی جرگی دغړولخواپه
تصویب ورسید او همدارنگه محمد
داودخان دافغانستان دجمهورریس په
توگه وټاکل سو.
۲۴/۲/۱۹۷۷ دافغانستان نوی اساسی
قانون دجمهورریس لخوا
توشیح(لاسلیک) سو.
د۱۲-۱۵ داپریل په کال ۱۹۷۷کی شوروی ته

ددولت دریس دوم سفر،
۵/۶/۱۹۷۷: دایران سره د هلمند د اوبو پر سر د اسنادو دمبادلی قرارداد
۹/۶/۱۹۷۷ : دپاکستان دصدراعظم ذوالفقار علی بوتوسفر وکابل ته،
۵/۷/۱۹۷۷ په پاکستان کی دجنرال ضیاالحق کودتا،
جنوری ۱۹۷۷ : دخلق او پرچم دګوندونو دوهم ځلي یووالی،
۱۶/۷/۱۹۷۷ : ددولتی ګوند (ملی انقلاب ) دتشکیل اعلان
۱۰/۱۰/۱۹۷۷ : د جنرال ضیاالحق د پاکستان نظامی حکومت دریس سفرو کابل ته،
۱۶/۱۱/۱۹۷۷ علی احمد خرم دافغانستان دپلان وزیر دخپل کارپه دفترکی په قتل

ورسید.
۲/۴/۱۹۷۸: محمد داود خان د مذاکری په موخه دعربستان سعودی، کویت او مصر هیوادونوته سفر وکړی.
۱۷/۴/۱۹۷۸ : میر اکبر خیبر یو د پرچم درهبرانوڅخه ووچه اصلاً د افغانستان دخلق ددیموکراتیک دګوندیوه خانګه وه په کابل کی په قتل ورسید.
۱۹/۴/۱۹۷۸د میر اکبر خیبر دجسد دوړلو پر مهال دافغانستان دخلق دديموکرات دګوند هوادارانو لخوا پراخ تظاهرات د کابل په ښارکی په لاره واچول سول.
۲۶/۴/۱۹۷۸ : دکابل رادیو اعلان وکړچه څونفره یی دولت ته دتوهین په تورنیولی اودنیول سوو په منځ کی نورمحمد تره کی او ببرک کارمل د


دمکراتیک خلق افغانستان ګوند رهبران هم شامل وو.

۲۷/۴/۱۹۷۸ د ثور د۷می کودتاه: افسران اوهغه سربازان چه دخلق ګوندته وفادارو و د محمد داود خان پرضدیی په نظامی کودتالاس پوری کړ.

۲۸/۴/۱۹۷۸ محمد داود خان دخپل ورور اودخپلی کورنۍ د اتلسو غړو سره یوځای دریاست جمهوری په انګړکی د کودتاچیانو لخوا شهیدان سو او پدې پدې سره د بارګزو دوره هم پای ته ورسیده .

۳۰/۴/۱۹۷۸ دنورمحمد ترکی لخوا اولین فرمان دانقلابی شورا لخوا صادر سو. دجمهوری افغانستان نوم په جمهوری

دموکراتیک خلق افغانستان تبدیل سو او نور محمد تره کی د انقلابی شورادریس په حیث اعلان سو.
۳۰/۴/۱۹۷۸ شوروی اتحاد د لومړی هیواد په حیث دافغانستان دخلق دیموکراتیک دجمهوریت په نوم په رسمیت وپیژندی تردی یوه ورځ وروسته کابینه جوړه اواعلان سوه.
۱۴/۵/۱۹۷۸ انقلابی شوراپه خپل دریم فرمان کی دکال ۱۹۷۷اساسی قانون ملغی اعلام کړی.
۲۲/۵/۱۹۷۸ : په نورستان کی دویګل ددری اوسیدونکوپه یو علنی قیام کی خپل مخالفت دنوی حکومت سره اعلان کړ.
۱۲/۶/۱۹۷۸ : انقلابی شورادځلورم فرمان



په اساس دافغانستان دبیرق او دولتی نښان دتغیر امر صادر کړی.

۱۴/۶/۱۹۷اد انقلابی شوراپه پنځم فرمان کی د اهل یحیی چه یوه سلطنتي کورنۍ وه تابعیت یې سلب ورکړ.

۱۲/۷/۱۹۷۸ شپږم فرمان دسود اوسلم بندیز او د ملاکانو رابلل د بزګرانوپه اړه،

۱۷/۷/۱۹۷۸: دخلق سیاسی کمیتی جلسه وکړه او دپرچم ځینی رهبران یې دمختلیفو هیوادونو د سفیرانوپه حیث تعین کړل.

۲۰/۷/۱۹۷۸ د نورستان او کنړ دخلکو قیام او ددولت سره اخ وډب،

۱۷/۸/۱۹۷۸ :عبدالقادر وزیر دفاع، جنرال شاهپور احمدزی لوی درستیز او میر علی اکبرد جمهوریت دشفاخانی ریس د

کودتاپه لاره اچولو متهم او زندان ته واچول سو.
۲۳/۸/۱۹۷۸ :دپرچم ځیني رهبران دنورمحمدترکی پر حکومت دکودتا په تور ونیول سول .
۹/۹/۱۹۷۸ جنرال ضیاالحق د پاکستان جمهور ریس و افغانستان ته راغلی او دنور محمد تره کی سره یی ملاقات وکړ.
۱۷/۱۰/۱۹۷۸دحکومت اوومه شماره فرمان دښځو د مهر په اړه اعلان سو. چه مبلغ ۳۰۰ افغانی کیدلی.
۱۹/۱۰/۱۹۷۸ نور محمد تره کی دافغانستان بیرغ د ریاست جمهوری پر سر ورپاوه.
۲۷/۱۱/۱۹۷۸ دکابل رادیو اعلان وکړ چه ۶تنه د پرچم رهبران په شمول د ببرک

کارمل چه دمختلیفو هیوادونو ددسفیرانو په حیث يې وظیفه اجراکوله دولت ته دتوطئو دجوړولو په تور دخپلو وظایفو څخه لیری کړل سو.

۲۸/۱۱/۱۹۷۸ دحکومت اتمه ګڼه فرمان د مځکو داصلاحاتو په اړه صادر سو.

۵/۱۲/۱۹۷۸ دنور محمد تره کی او لئونید برژنف ترمنځ دهراړخیزه همکاریو یو تړون په مسکو کې امضا سو.

۱۱/۲/۱۹۷۹: په ایران کی داسلامی انقلابی بری اودشاهی نظام سقوط (۲۲ بهمن ۱۳۵۷)

۱۳/۲/۱۹۷۹ : دافغانستان ددینی علماو یوې ډلی دپاکستان دپیښور په ښار کی یوه ناسته وکړه اود کابل پرحکومت يي دجهاد فتوا صادره کړه.

۱۴/۲/۱۹۷۹ ادلف دابس د آمریکا دمتحده ایالاتونو سفیر د کابل په ښارکی په قتل ورسید.
۲۵/۲/۱۹۷۹ د درۀ صوف دخلګو غورځنګ،
۲۰-۱۵ مارچ ۱۹۷۹دهرات دخلګو غوځنګ (۲۴ - ۲۹ حوت ۱۳۵۷)
۱۵/۳/۱۹۷۹ دنورمحمدترکی دحکومت پرضد دولتی افسرانو، سربازانو اودهرات ولس قیام وکړ دواير اونظامی تاسیساتوته ورننوتل اودحکومت په لس هاوو افسران اوروسی مشاورین یی هلته ووژل. پدی خونینه غورځنګ کی ۲۴۰۰۰ دهرات خلک شهیدان سو روح دی ښاد وی.
۱۷/۳/۱۹۷۹ : نور محمد تره کی په

یوتلیفونی تماس کی دشوروی دصدراعظم الکس کاسگین څخه وغوښتل چه دهرات دخلګوغورځنګ دروس دفوځیانو او سلاحو په رااستولو سرکوب کړل سی .

۲۷/۳/۱۹۷۹: حفیظ الله امین دافغانستان د صدراعظم په حیث تعین سو.

۲۷/۳/۱۹۷۹ : دننګرهار دفرقی عساکرو او صاحب منصبانو د کابل دحکومت پرضدپورته سو.

۲۹/۵/۱۹۷۹ : پوهاند غلام محمد نیازی دافغانستان دنهضت ګوند رهبر د خپل ګوند د غړو لخوا د پلچرخی په زندان کی اعدام سو دالته بندیانو قیام وکړ ترډې مخکې په تاریخ ۲۰/۵/۱۹۷۹باندی دقیام په تور ۱۴۰ کسه د پلچرخی دزندان په



داخل کی اعدام سو.
۲۳/۶/۱۹۷۹ دکابل اوسیدونکو د جادهٔ میوند او چنداول په سیمه کی په عمومی قیام لاس پوری کړ.
۱۵/۸/۱۹۷۹ : دکابل د بالاحصار په قرارګاه کی ددولتی نظامیانو دحکومت پرضد ښورښ او دښورښ ماته.
۱۱-۱اسپتمبر ۱۹۷۹:د ترکی سفر و هاوانا ته چه د کیوبا پایتخت دی ترسره سو،
۱۴/۹/۱۹۷۹ : دجمهوری ریاست په انګړکی دنور محمد تره کی او حفیظ الله امین دپلویانو ترمنځ اخ وډب پیل سو.
۱۶/۹/۱۹۷۹ نور محمد تره کی دحزب د مقام او دافغانستان دحکومت څخه لیری اعلان سو او دهغه پرځای حفیظ الله امین د قدرت پرڅوکۍ تکیه ووهله.

۱۰/۱۰/۱۹۷۹ نور محمد تره کی د حفیظ الله امین دنفرو لخواپه بالښت خفه سو خو د کابل رادیو اعلان وکړ چه نور محمد تره کی د مریضی په اثر مړ سو.

۲۳/۱۰/۱۹۷۹ د تره خیل مجاهدینو کابل پرهوایی میدان هجوم وروړ،

دسامبر ۱۹۷۹ :دشوروی جګړه په افغانستان کی،

۱۶/۱۲/۱۹۷۹ : شوروی اتحادخو خپل نظامی واحدونه د افغانستان پرسرحداتو ځای پرځای کړ.

۲۲/۱۲/۱۹۷۹ د شوروی اتحادخه سرتیری دبګرام په هوایی میدان کی پیاده سو.

۲۵/۱۲/۱۹۷۹ دشوروی دنظامیانوراکښته کیدل دکابل په هوایی میدان کی شروع سو،

۲۷/۱۲/۱۹۷۹ دشوروی سرتیری د دارالامان ماڼۍ ته ننوتل د تاج بیګ پرغونډۍ چه راډیو تلویزیون ورباندی هم ووحمله یی وکړه حفیظ الله امین دخپلو کورنیو دغړو او ساتونکو سره یوځای ووژل سو.

د۲۷ددسامبرکال ۱۹۷۹ څخه تر۲۴ دنومبر کال۱۹۸۶ میلادی یاد جدی دشپږمی کال۱۳۵۸ څخه تر۳ دقوس کال ۱۳۶۵ هجری شمسی پوری **#ببرک_کارمل**.

۳۰/۱۲/۱۹۷۹ :دشوروی تیریرغل وروسته اولین مطبوعاتی کنفرانس د ببرک کارمل لخوا په کابل کی دچهلستون په ماڼۍ کی دایرسو.

۳۰/۱۲/۱۹۷۹: د کابل راډیو اعلان وکړچه حفیظ الله امین محاکمه او اعدام سو.

۳۱/۱۲/۱۹۷۹ :دنوی حکومت کابینه اعلان سوه. ببرک کارمل  دمرکزی کمیټي عمومی منشی او دافغانستان د دموکراتیک ګوند دانقلابی  شورارییس او لومړی وزیر اعلان سو.

۵/۱/۱۹۸۰ : دملګروملتونو د امنیت سازمان شورا د افغانستان پر مسله جلسه جوړه کړه. دشورا د۱۵ غړودجملی څخه یې۱۳ غړو د افغانستان څخه دشوروی دځواکونو دایستلو غوښتنه وکړه.

۲۲/۲/۱۹۸۰ دکابل په زرګونه اوسیدونکي ولارو او کوڅو ته راووتل اوپه مخالفت باندی یې دتکبیرناري شروع کړی او پر

سرېي هليکوپترونو اودولتي سرتيرو دمرميوباران شروع کړ چه په سلګونو يې شهيدان اوټپيان کړل.

۲۱/۴/۱۹۸۰ ببرک کارمل دافغانستان نوی بيرغ دجمهورې رياست پرماڼۍ ورپاوه.

۲/۳/۱۹۸۱ :دپاکستان يوبال الوتکه چه دکراچی دښارڅخه يې پرواز کړی وو دمسلح خلګولخواچه ځانونه يې د الذوالفقارد ډلي ونومول وتښتول سوه اودکابل پر هوائی ډګرراکښته سوه .

۱۰/۶/۱۹۸۱ : سلطان علی کشتمند د افغانستان لومړی وزير اعلان سو.

۱۱/۷/۱۹۸۱:دکابل حکومت سابقه لايحه تعديل کړه او دسربازۍ سن يې راکښته کړی.

۲۰/۹/۱۹۸۱ : دافغانستان د مهاجرينو او

قومی مشرانودهیواده دباندی دکویټي په
ښارکی په یوه لویه جرگه کی سره راټول
سو اود جهاداودهیواد دراتلونکی په اړه
یې بحث او خبري وکړی.
۲۷/۱۲/۱۹۸۱ : رونالد ریگان دامریکاجمهور
رئیس پیشنهاد وکړی چه دمارچ۲۱مه
مطابق دحمل د اولی سره ده داورځ دې
دافغانستان دخلکوسره دپیوستون
دورځي ځي په نامه ولمانځل سي.
۲۱/۱۰/۱۹۸۲ : احمد شاه مسعود دځینو
مجاهدینو قوماندان دلومړي ځل دپاره د
بین المللی ټولني ځخه غوښتنه وکړه چه
د پنجشیر د دری داوسیدونکوسره چه
دجنګونو له وجهی یې په تیرو دوو
کلونوکی داقتصادي محاصرې باوجود
دقحطۍ اولوږي دخطرسره مخامخ دی

دهرخه ترمخه اوژر تر ژره غذائی مرستې راولیږي.
۲۵/۱۱/۱۹۸۲ : دیوبم انفجار سینمای پامیر اودکابل نورونږدی ساختمانونوته شدید تکان ورکړ.
۱۹/۱/۱۹۸۳ : پروفسور صبغت اللّٰه مجددی د افغانستان دمجاهدینو داتحادیی ریس په پیښورکی له یوې پیښې روغ رمټ ووت.
۱/۱/۱۹۸۴ :دکابل حکومت د عسکرۍ دجلب نوی لایحه اعلان کړه. په دی اساس حکومت۱۷ځوانان عسکرۍ ته جلب کړل.
۲۱/۴/۱۹۸۴ : د شوروی اتحاد اوکابل حکومت کابل اوومه لویه حمله پرپنجشیر شروع کړه کندهار لا له پخوا

هغه مهال هم دسختو جنګونو شاهدوو.
۲۵/۲/۱۹۸۵ : میخائیل ګورباچف د
شوروی رهبر د کمونیست ګوند ۲۷ کلیز
غونډه افتتاح کړه. اوپه خپلوخبروکی
پی د افغانستان جګړه دشوروی اتحاد
دپاره یو خونړی تپ وباله.
۲۳/۴/۱۹۸۵ : ببرک کارمل دقبایلي
رهبرانوجرګه په کابل کی افتتاح کړه.
۲۱/۴/۱۹۸۶ : د آمریکاحکومت مجاهدینو
ته په هوائی ضداسلحه کی د استینګرو
ورکړه منظور کړه.
۳/۵/۱۹۸۶: ببرک کارمل دخلق
دیموکراتیک ګوند دمرکزی شوراپه عنوان
په یوه لیک کی دنوموړی ګوندد
منشیتوب څخه استعفا ورکړه
۴/۵/۱۹۸۶ : د افغانستان د دموکراتیک



خلق ګوند کمیته دایره سوه اوداکتر
نجیب الله دګونددمرکزي کمیتی دعمومی
منشی په توګه انتخاب سو
۱۸/۷/۱۹۸۶: په کابل کی یوه محکمه دایر
سوه او۶ تنه دمجاهدینو لوی قوماندانان
احمد شاه مسعود، پناه خان قوماندان
دپروان ولایت امیر اسماعیل خان، علاء
الدین خان دهرات ولایت قوماندان
مولوی جلال الدین حقانی دپکتیاولایت
قوماندان اوسید منصور حسین یار
دبغلان ولایت قوماندان یې غیاباً په
اعدام محکوم کړل.
۵/۱۱/۱۹۸۶ :دبین الملل دسازمان د
عمومی ټولنې په اکثریت ۱۲۲ رایی د
افغانستان څخه د شوروی دوتلوغوښتنه
وکړه.

۱۲/۱۱/۱۹۸۶: داکتر فیض احمد دافغانستان دخلاصون د سازمان رهبر د ۶ ملګروسره د پاکستان په پیښورکی اختطاف وو او په قتل ورسیدی.

۱/۱/۱۹۸۷ : په کابل کی اعلان وکړ چه اوربند د کابل دحکومت او مجاهدینو تر منځ دجنوری د۱۵ نیټی دسرځخه عملی کیږي.

۲۰/۷/۱۹۸۷: داکتر نجیب الله دافغانستان جمهورریس دمیخائیل ګورباچف سره په مسکوکی ملاقات وکړ.

د۳۰می ځخه دسپتمبرکال ۱۹۸۷ ځخه بیا تر ۱۶اد آپریل ۱۹۹۲ میلادی کال یا ۸ مه دمیزان کال ۱۳۶۶ ځخه بیاتر ۲۷ دحمل ۱۳۷۱ هجری شمسی پوری

#دَاکترنجیب‌الله:

۳۰/۱۱/۱۹۸۷ : لویه جرگه د کابل په ښارکی تشکیل سوه چه دافغانستان پر نوی اساسی قانون بحث وکړی.
۱۴/۴/۱۹۸۸: د جنوا توافقات د افغانستان، پاکستان ،شوروی اود آمریکا داستازو ترمنځ په امضاء ورسیدل.
۱۵ دمی۱۹۸۸- ۲ فبروری ۱۹۸۹: دافغانستان ځخه دشوروی قواو وتل
۱۵/۵/۱۹۸۸: دجنوا د توافقنامی په امضا پسې دشوروی یرغلګرو لومړنی ډله دجلال آبادځخه دشوروی په نیت روانه سوه.
۲۷/۵/۱۹۸۸ : محمد حسن شرق دافغانستان دصدراعظم په صفت تعین

سو.
۲۷/۱/۱۹۸۹ : اکثره غربی هیوادونو او جاپان په کابل کی خپلی سفارت خانی وتړلي.
۱۵/۲/۱۹۸۹: دشوری دځلویښتم لښکرمشر جنرال بوریس گروموف دآمو پرپل باندې دهغه هیوادد عسکروحضور په افغانستان کی وپای ته ورساوه.
۲۰/۲/۱۹۸۹: سلطان علی کشتمند ددوهم ځل دپاره دافغانستان د صدراعظم په حیث افغانستان تعین سو.
۲۱/۲/۱۹۸۹ : دکابل حکومت اضطراری (بیړنی) حالت اعلان کړی.
۷/۳/۱۹۸۹ :پرجلال آباد ددی ولایت دنیولو په خاطر مجاهدینو لویه حمله شروع کړه.



۱۰/۳/۱۹۸۹:دافغانستان دمجاهدینو دموقت حکومت دکابینی اولینه جلسه دپکتیا ولایت د ښیوی په سیمه کی راوبلل سوه.

۱۰/۳/۱۹۸۹ :سعودی عربستان دلومړنۍ هیوادپه حیث دمجاهدینو موقت حکومت په رسمیت وپیژندی.

۷/۴/۱۹۸۹ : آمریکا د پیتر تامسن په نوم یوکس دهغه هیواد د سفیرپه حیث دافغانستان مجاهدینو ته معرفی کړی.

۲۰/۵/۱۹۸۹ : داکتر نجیب اللّٰه لویه جرگه چه په کابل کی ترتیب سوی وه افتتاح کړه.

۵/۸/۱۹۸۹ : گلبدین حکمتیاردیوه مطبوعاتی کنفرانس په ترخ کی دمجاهدینو موقت حکومت بی اعتبار

وباله او دمجاهدینو دحکومت دوزارت خارجه دپوسټ څخه یې استفعا وکړه.

۶/۳/۱۹۹۰ : جنرال شهنواز تڼی دافغانستان وزیر دفاع په یوناځوانه کودتا لاس پوری کړ.

۷/۳/۱۹۹۰ : شهنواز تڼی دځینوکودتاچی رهبرانوسره یوځای په نظامی الوتکه کی دافغانستان څخه وتښتیدی اوپاکستان ته ولاړی.

۷/۵/۱۹۹۰ : فضل حق خالقیار دافغانستان د صدراعظم په حیث تعین سو-

۲۸/۵/۱۹۹۰ : لویه جرگه په کابل کی دایره شوه چه داساسی قانون پر تعدیلاتو بحث اوخبری وکړی.

۱۱/۱۱/۱۹۹۰ : پروفسور مجددی

دمجاهدینو د موقت حکومت رئیس
هرات ته جبهات واستول.
۳۱/۳/۱۹۹۱ :دخوست ښارد  مجاهدینو په
لاس سقوط وکړی.
۱۹/۵/۱۹۹۱: پرهرات دکابل دحکومت
لخوا لویه هوایی اوزمینی حمله وسوه
تر۶ میاشتو وروسته داسماعیل خان نفرو
حکومت ته ماته ورکړه.
۲۱/۵/۱۹۹۱ : دملګروملتونو سرمنشی
دافغانستان دشخړو دحل دپاره ۵ مادیېزه
طرحه  پیشنهاد کړه.
۵/۱۱/۱۹۹۱ یو پرتغالی خبریال
دافغانستان دپخوانی پادشاه محمد
ظاهرشاه سره په روم کی دمرکی پرمهال
دچاقوحمله وکړه خولږیې ټپی کړ.
۱۱/۱۱/۱۹۹۱ دمجاهدینولومړی هیت

دشوروی دحکومت په بلنه دبرهان الدین ربانی ترسرپرستی لاندی مسکوته سفر وکړ او ۴ورځی وروسته یې یوه مشترکه اعلامیه نشرکړه.

۱۵/۱/۱۹۹۲ دافغانستان دحکومت داردو افسرانو او سرتیرو د حیرتان په یوګاونډی ښارګوټی کی دجنرال عبدالمومن په رهبری د داکتر نجیب الله دحکومت پرضد قیام وکړ.

۱۵/۳/۱۹۹۲: دسمنگانوولایت د مجاهدینو په لاس سقوط وکړی-

۱۸/۳/۱۹۹۲: دمزار شریف ښارد جنرال دوستم او مجاهدینولخوا دحکومت له تصرفه ووتی.

۲۰/۳/۱۹۹۲ :د داکتر نجیب مخالفی ډلی د مزار شریف په ښارکی سره راټولی سوی

اود جنبش اسلامی افغانستان سازمان یې د جنرال دوستم تررهبری لاندی جوړکړی.
۱۹۹۲/۴/۱۴ : مجاهدینودقوماندان احمدشاه مسعودترمشرتوب لاندی دبګرام نظامی ډګر تر خپل کنترول لاندی کړی.
۱۹۹۲/۴/۱۶ :دکابل دحکومت خارجه وزیر عبدالوکیل پروان ته ولاړی چه داحمدشاه مسعود سره مجاهدینوته دقدرت پرانتقال خبری وکړی.
۱۹۹۲/۴/۱۶ : داکتر نجیب الله په کابل کی دملګرو ملتونو دفتر ته پناه یووړه.

داپریل پر۲۷کال ۱۹۹۲ خخه تر ۲۶
دسپتمبر کال ۱۹۹۶ میلادی یا ۷ دثور
کال۱۳۷۱ خخه تر ۵ دمیزان کال ۱۳۷۵
هجری شمسی پوری **#مجاهدین**.

۱۸/۴/۱۹۹۲ دهرات ولایت امیر اسماعیل
خان ترمشری لاندی دمجاهدینو په لاس
فتح سو.
۲۰/۴/۱۹۹۲: دمجاهدینو مختلفو ډلو د
کندهارښار تسلیم کړ.
۲۳/۴/۱۹۹۲ د جلال آباد، گردیز، مهترلام
او قلعه نو ښارونه مجاهدینو تسلیم کړل.
۲۴/۴/۱۹۹۲ دافغانستان مجاهدینو پریوه
طرحه موافقه وکړه چه دهغه اساس
صبغت الله مجددی ددو میاشتو دپاره
دافغانستان دانتقالی حکومت رئیس



تعین سو.
۲۵/۴/۱۹۹۲ : دکابل ښارد مجاهدینو دمختلیفو ډلو تر اداره لاندې راغلی او هم زمانه دقدرت پر سر داخلی جنګونه شروع سو.
۲۵/۴/۱۹۹۲ : دافغانستان دموقت حکومت اولینه اعلامیه د کابل دښاردامنیت په اړه صادره شوه.سمدلاسه د حزب اسلامی او دجمیعت ګوند تر منځ دکابل په اکثره جنوبی خنډوکی جنګونه شروع سو .
۲۸/۴/۱۹۹۲ صبغت الله مجددی دافغانستان داسلامی موقت حکومت ریس د مجاهدین د یو کاروان په ملتیاد کابل ښار ته داخل سو.
۲۸/۴/۱۹۹۲ : ومجاهدینوته دقدرت

۲۸/۴/۱۹۹۲ : ومجاهدینوته دقدرت دانتقال مراسم د زرات خارجه په تالارکی ترسره سواو فضل حق خالقیارد داکتر نجیب الله دحکومت صدراعظم رسماً حکومت وښاغلی مجددی ته تسلیم کړی.
۲/۵/۱۹۹۲ : دمجاهدینود حکومت کابینه رسماً اعلان سوه.
۲۲/۵/۱۹۹۲ صبغت الله مجددی دافغانستان دموقت حکومت ریس د مزار شریف ولایت ته ولاړی اوهلته یې د سترجنرالۍ رتبه دعبدالرشید دوستم پر اوږو نصب کړه.
۲۸/۶/۱۹۹۲ : صبغت الله مجددی دچارو مشرۍ و شوارى قیادى ته تسلیم کړه او شورای قیادی برهان الدین ربانی

دموقت حکومت رئیس غوره کړ.
۶/۹/۱۹۹۲ : دلومړۍ ځل دپاره دری کسه دغلا او قتل په تور دکابل په زرنگار پارک کی په عام ډول په دار وځړول سول.
۱۱/۱۲/۱۹۹۲: دمجاهدینوترمنځ په کابل کی دوژل سوو افغانانو په خاطردملی ماتم په نوم یوورځ ولمانځ سوه ویل کیږي چه په یووار ډیر دکابل اوسیدونکي د احمدشاه مسعود اوحکمتیار ددلو لخوا ووژل سول دهغه مهال دځینو راپورونو په اساس دوژل سووکسانوتعدادتر ۶۰۰۰ کسانو پوری ښودل سویدی.
۳۱/۱۰/۱۹۹۲: د استاد ربانی ریاست خاتمه پیداکړه خوده قدرت نه تسلیماوه.
۳۰/۱۲/۱۹۹۲ :د اهل حل او عقد شورا

استاد برهان الدین ربانی  دمجاهدینو
دحکومت دریس په توګه انتخاب کړی.
۸/۳/۱۹۹۳ : په اسلام آبادکی د مجاهدینو
رهبرانو تر موافقتنامی وروسته مکه
مکرمی ته ستانه  سول.
۲۱/۲/۱۹۹۴ : درې افغانانو په پیښورکی
دښونځی دشاګردان یوورونکی بس
یرغمل کړی یوه وروسته اسلام آباد ته
نارسیده دبس او د۷۴ شاګردانو
ښتوونکو غوښتنه وکړه چه جنګ ځپلی
کابل ته دی غذایې موادواستوی.
۲۰/۷/۱۹۹۴ : دهرات دوالی  اسماعیل
خان په نوښت یوه شورادهیواد د
سیاسی، علمی فرهنګی او نظامی
شخصیتونوپه ګډون ددې دپاره جوړه
سوه چه  خنګه کولای سو افغانستان

دبحرانې حالت څخه تر بررسی وروسته راوباسو.
۱/۱۰/۱۹۹۴ : دپاکستان دتجارتی موادوکاروان په کندهارکی دمجاهدینو دقوماندانانولخوا ودرول سوکرنیل امام دپاکستان دهغه مهال دجاسوسې اداری مشرکندهارته راغلی اوټول قوماندانان یې دپاټکونو پر سر یوه جوړجاړی ته سره ورسول.
۱۰/۱۰/۱۹۹۴: دطالبانوپه نامه یوې ډلی دکندهارولایت دمعروف اوارغستان ولسوالیوتر نیولو وروسته دسپین بولدک دولسوالی پرسرحدی ښارګوټی حمله وکړه اوهغه یې پخپل تصرف کی واخیستی.
۱۲/۱۱/۱۹۹۴ د طالبانوډلی د کندهار ولایت

کنترول پخپل لاس کی ونیوی او دکندهار مجاهدین د هرات پرلوری وتښتیدل.
۱۰/۲/۱۹۹۵: دمیدان وردګوولایت دلږ جنګ وروسته د طالبانوپه لاس سقوط وکړی.
۱۱/۲/۱۹۹۵: طالبان دلوګرمکمل کنترول پخپل لاس کی ونیوی.
۱۹/۲/۱۹۹۵: طالبانودخوست دښار کنترول هم په خپل لاس کی واخیستی.
۱۱/۳/۱۹۹۵: عبدالعلی مزاری دحزب وحدت اسلامی رهبر چه دطالبانوپه لاس کی راغلی وودمیدان وردګوپه ولایت کی په قتل ورسیدی.
۹/۴/۱۹۹۵: روسی الوتکودتالقان بازار په شدت بمبار کړی.



۱۷/۴/۱۹۹۵ : طالبانویوه پراخه حمله دفراه ولایت دنیولوپه خاطرپه لاره واچوله .
۵/۹/۱۹۹۵ :د هرات ښارد طالبانو په لاس سقوط وکړ.
۲۶/۶/۱۹۹۶ : گلبدین حکمتیار چه به دافغانستان دصدراعظم په حیث تعین سوی وود کابل ښارته ورسید.
۶/۷/۱۹۹۶: صدراعظم اونوی وزیرانو لوړه وکړه.
۱۱/۹/۱۹۹۶: طالبانودجلال آبادښارو نیوی .

دسپتمبر د۲۷کال ۱۹۹۶ څخه تر ۱۲اد نومبرکال ۲۰۰۱ یا۶ دمیزان کال ۱۳۷۵ څخه دعقرب تر۲۱کال ۱۳۸۰ هجری شمسی پوری د **#طالبانوحرکت**.

۲۷/۹/۱۹۹۶ :دکابل ښارد طالبانو لخوا فتح شو. داکتر نجیب الله د افغانستان پخوانی جمهورریس دخو مسلحو کسانو لخوا دملګروملتونو د سازمان د دفتر او کابل دښار څخه د باندی یونامعلوم ځای ته یووړل سو او په همدغه ورځ دی ورور او یاوریې دآریانا پرڅلورلاری خلګو په دار ځړولی حالت کی ولیدل.
۱/۱۲/۱۹۹۶ ببرک کارمل دافغانستان رئیس جمهور په مسکو ښارکی وفات وکړ.

۱۸/۵/۱۹۹۷: جنرال عبدالمالک د جنبش اسلامی افغانستان سیاسی رهبر پرجنرال دوستم دهغه ډلی دمشر پر ضد پاڅون وکړ او د مزار اداره یې پخپل لاس کی واخیسته.

۲۴/۵/۱۹۹۷ دمزار شریف ښار د طالبانوپه لاس کښیوتی.

۲۶/۵/۱۹۹۷ په مزاره شریفه کښې دطالبانو پر ضد تقریباً عمومی قیام وسو.

۲۶/۱۰/۱۹۹۷ د طالبانوادارې دهیواد رسمی نوم دافغانستان په اسلامی امارت تبدیل کړی.

۱۳/۱/۱۹۹۸ یوبال مسافربری الوتکه چه د آریاناشرکت مربوطه وه دپاکستان دکویټې ښارته نژدې یې سقوط وکړی.

۲۳/۱/۱۹۹۸ داکتر محمد یوسف د افغانستان پخوانی صدرپه آلمان هیوادکښي وفات سو.

۴/۲/۱۹۹۸ دتخارپه ولایت کي دیوسختي زلزلي وروسته حداقل پنځه زره تنه مړه سول.

۲۹/۴/۱۹۹۸ دطالبانو او دمتحدې جبهې د نمایندګانو ترمنځ په اسلام آباد کښي مذاکرات شروع سول،

۸/۸/۱۹۹۸ :طالبانو دمزاري شریفي په دوهم ځل نیولوسره نهه کسه ایراني دیپلوماتان او یو خبریال دمزارشریفي په قونسلګری کښي په قتل ورسول.

۱۱/۸/۱۹۹۸ دتالقان ښارچه دتخارولایت مرکزدی دطالبانوپه لاس کښیوتی.

۸/۸/۱۹۹۸ طالبانوپه مزاره شریفه کښي

دمسلحوکسانوپه قتل عام لاس پورې کړ.
۲۰/۸/۱۹۹۸ دوي نظامي اردوگاه وي دخوست او ننگرهار په ولایتونوکښي دامریکادتوغندیو ښکار سوي.
۱/۹/۱۹۹۸د ایران اسلامي دولت اعلان وکړچه یولوی نظامي مانور به د افغانستان په سرحداتوکښي اجرا کړي.
۱۳/۹/۱۹۹۸ دبامیانو ولایت د طالبانو په تصرف کښي راغلی.
۱۸/۷/۱۹۹۹ ملا محمد عمر دطالبانو رهبر دیوې اعلامیې په ترخ کښي پرطالبانو دآمریکا تحریمات وغندل،
۲۷/۷/۱۹۹۹ طالبانو یوه لویه حمله دکابل پرشمالي ولایاتو باندی په لاره واچوله.
۱۵/۱۰/۱۹۹۹ پرطالبانو د اقتصادی تحریم

په ترخ کښې د هیواده بهر د آریاناافغان هوایې شرکت دالوتکې پروازونه ممنوع اعلان سو.

۲۵/۱۰/۱۹۹۹ دملل متحدسازمان د برهان الدین ربانی دحکومت قانونې اعتباردیوه بل کال دپاره تمدید کړی.

۲۶/۳/۲۰۰۰ امیر اسماعیل خان دهرات پخوانی والی د طالبانود زندان څخه په کندهارکښې وتښتیدی.

۲۶/۲/۲۰۰۱ په کابل کی دطالبانو رادیو دیو فتوا په ترخ کښې څرګنده کړه چه بایددافغانستان ټولې مجسمې نابودې سې.

۹/۳/۲۰۰۱ طالبانودبامیانو مشهوره اوتاریخې بودایې مجسمې دتوپونوپه ذریعه ونړولې.

۲۰۰۱/۴/۳ احمد شاه مسعود داروپايي پارلمان دمقاماتوپه بلنه هلته ولاړی.
۲۰۰۱/۹/۹ احمد شاه مسعودد خواجه بهالدين ولسوالۍ چه د تخارولايت مربوطه ده ددو عربانو په فدايې حمله کی چه ځانونه يې خبريالان معرفي کړی وو ووژل سو.
۲۰۰۱/۹/۲۵ طالبانوپه کابل کښي د آمريکا سفارت په اور وسوځاوه.
۲۰۰۱/۱۰/۷ د آمريکا حمله پر افغانستان پيل سوه
۲۰۰۱/۱۰/۲۶ طالبانو چه يو پخوانی مجاهد قوماندان عبدالحق بندی کړی او بيايې په لوګرکښي اعدام کړی.
۲۰۰۱/۱۱/۹دمزار شريف ښارد دافغانستان متحد ملی جبهې ګوندغړو ونيوی.

۱۲/۱۱/۲۰۰۱ دطالبانوآخرې نظامې قرارگاه دکابل په څنډو کښې ددوی دلاسه ووتله،
۱۶/۱۱/۲۰۰۱ د بریتانیا د عسکرو لومړی ډلګۍ د بگرام په هوایي ډګرکښې پیاده سوه،
۵/۱۲/۲۰۰۱ حامد کرزی دافغانستان دموقتي ادراې ریس وټاکل سو.
۶/۱۲/۲۰۰۱ دبن غونډه پای ته ورسیده.
۷/۱۲/۲۰۰۱ د طالبانو مخالفو قدرتونو لکه ګل اغا شیرزي او نورو د کندهار د ولایت کنترول پخپل لاس کی ونیوی،
۲۱/۱۲-۲۰۰۱دسولې ساتنې بین المللی ځواکونه کابل راورسیدل،

۲۲ دسامبر ۲۰۰۱-۷ دسامبر ۲۰۰۴ د حامد کرزی ریاست دافغانستان دانتقالي حکومت څخه،

۴/۱/۲۰۰۴ پس له دریو هفتو مباحثي څخه وروسته د لویې جرګي د غړو لخوا دافغانستان داساسي قانون تصویب

۱۴/۹/۲۰۰۴ د هرات دوالي اسماعیل خان دخپلي دندي څخه لیری کول،

۹/۱۰/۲۰۰۴ د افغانستان دجمهورۍ ریاست ټاکني

۷/۱۲/۲۰۰۴ حامد کرزی،دسه شنبی په ورځ دسامبر په۷د لومړۍ منتخب جمهورریس په  عنوان دسلام خانې په ماڼۍ کې لوړه وکړه.

د۱۷ قوس ۱۳۸۳) ۳/۵/۲۰۰۶ نوی کابینې په  کار شروع وکړه حامد کرزي دوهم

انتخابات هم وګټل دریم ځل اشرف غنی چه اوس هم برحاله جمهور ریس دی تاکنې وګټلی او د طالبانو سره جګړه دوام لري.

لیکوال : زلمی خان سالار ( بارکزی )
کندهار افغانستان 1394


کتابتون
ستر پښتو
online address
kandahar maruf
tmlzulmaisalar
زلمي سالار بارکزی